یا ایها الذین امنوا کونوا قوامین بالقسط شهداء لله

قیام حق

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

شهر رمضان الذی انزل فیه القرآن

رمضان هغه میاشت ده چې قرآن پکې نازل شوی دی (القرآن)

د روژې مبارکې میاشتې

فرمان خدا جل جلاله

مومن دا (قرآن) د "قدر" په شپه نازل

کړی څه پوهیږې چې "قدر" شپه څه

ده؟ ○

"قدر" شپه تر زرو میاشتو غوره ده ○

(پدی شپه) ملائکې او روح (الامین)

(د چارو د اهتمام او انتظام لپاره) د خپل پروردګار

په امر را کوزیږی ○

دا (شپه) د سبا تر ختو (د امن وامان او

سلامتی شپه ده ○

د قدر سورې
ترجمه

آدرس مکاتباتی :

مدیریت مجلهٔ (قیام حق)

کمیته فرهنگی اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان

پوست بکس ـــ (۱۸۵) پشاور پاکستان

ارګان نشراتی کمیتهٔ فرهنګی

زموږ شعار

د خدای (ج) رضا مو هدف ،
حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) مو رهبر ،
قرآن شریف مو قانون ،
د خدای (ج) په لارکی جهاد مو لار ،
د خدای (ج) په لارکی شهادت مو ستر هدف ،
آزادی مو عزت ،
او
شرعی حجاب مو پت دی .

بسم الله الرحمن الرحیم

شمارهٔ مسلسل ۲۱ ـ سال دوم ـ شمارهٔ ۹ ـ رمضان المبارک ۱۴۰۴

آنچه درین شماره میخوانید

ګڼه	مضمون	مخ
۱ـ	د رحمت ، مغفرت او نجات میاشت	٥
۲ـ	رمضان : د صبر او زغم میاشت	۷
۳ـ	د روح پسرلی	۱٤
٤ـ	د افغانستان جهاد او د مسلمانانو . . .	۲۲
٥ـ	روسهای تجاوزگر دیگر در ملل متحد ...	۲۸
٦ـ	بسیا ژوند	۳۱
۷ـ	د افغانستان پر آسمان سری وریځی	۳۳
۸ـ	دعوت بیکتا پرستی	۳۹
۹ـ	نقش جوانان در انقلاب اسلامی	٤٥

«غبرګی مبارکی»

له نیکه مرغه دا ځل له خپلو درنو لوستونکو سره داسی مهال غبرګیږو ؛ چی د فضیلتونو ، برکتونو ، تقوی ، زغم ، رحمت ، مغفرت . . . او بالاخره د لوی خدای (ج) په وړاندی تر زرو میاشتو غوره میاشت ، را د بره شویده .

رمضان مبارکه میاشت د خپلو نورو مادی او معنوی ارزښتونو ترڅنګ د عظیم الشأن قرآن د نزول ستر ویاړ او زیری هم له ځان سره لری ، او د خپلو روحانی ، اجتماعی او اخلاقی لوړونو د بشپړونی ترڅنګه د وروسی میاشتی (شوال) په را د بره کیدو د «اختر» خوشالی هم له ځان سره غبرګی راوړی .

«قیام حق» مجله ویاړی، د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد د فرهنګی کومیتی په نماینده‌ګی خپلو زړورو او ننګیالیو مجاهدینو ، سهاندو مهاجرینو ، کړیدلی مسلمان اولس او د نړی ګردو مسلمانانو ته دغه «غبرګ مبارکی» پریوه وخت د نړیوال اسلامی حکومت د نعم البدل په هیله وړاندی کوی .

والسلام

د روژې انقلابي لوښه*

روژه هم د اسلام د نورو بنسټيزو ارکانو (لکه د توحيد کليمي ، لمانځه ، زکاة ، حج او جهاد) غوندې راز راز اجتماعي ، اقتصادي ، کولتوري ، صحي او ...) ډېرې ښېګړې لري ، دغه ښېګړې پرخپل ځاى دومره ستري او ارښتمنې دي چې پر هرې يوې يې د علم او فن خاوندان ، د خپل فکر نيلي پوره ښه ځغلولي او بلها ډېر څه پرې ليکلي شي. —

د لته د موضوع په ارتباط پردغه يادو شوو ښېګړو سربېره يوه بله ښېګړه ته هم چې د روژې ځانګړنه ګڼل کېداى شي ، په لنډو اشاره کول غواړو :

دا ښېګړه د ارادې ځواکمنې او پياوړتيا ده ، په رښتينه چې روژه د انساني ارادي او عـزم په پياوړتوب کې پوره لاس کولاى شي ؛ د همدې انقلابي او وداليزې لوښې له مخې و چې د بدر ستري غـزا - چې د روژې په مبارکه مياشت کې وشوه - د اسلام د پېل لش لاسي مسلمانان په پوره اولوالعزمي او مړانه د خپلې ګڼي له څوبرابره خونړي او جګړه مار طاغوتي لښکر سره د جګړې ډګر ته راوايستل ، او سو به يې ورپه برخه کړه او د دې قرآني ارشاد عملي تعبير يې وړاندې کړ چې : «ډېر ځله لږې ټولې پر ډېرکيو سوبمن شويدي .»

همدا راز د ۱۹۷۳ کال د روژې په مبارکه مياشت کې چې د عربي ټولني جنګياليو د غاصب صهيونيت پر مخ کومه څپړه وار کړه ، نه يوازې د عربي اولس بلکې د درست اسلامي امت دويار شمله يې جګه کړه .

د لوى خداى (ج) له درباره هيله ده ، زمونږ مؤمنو او لنګياليو مجاهدينو ته هم په دغه مبارکه مياشت کې اريانوونکې برياليتوبونه ورپه برخه کړي ، او د کړاوولو په زغم کې برې د روژې د انقلابي لوښې او خصوصيت په رڼا کې د صبر احسان ولوروي.

* خصلت

د رحمت مغفرت او نجات میاشت

بیهقي یو مبارک حدیث رانقل کړیدی ، د حدیث راوي حضرت سلمان فارسی (رض) وائي چې رسول اکرم صلوات الله علیه و سلامه د برات میاشتي په ور- وستی ليټه یوه خطبه واورولـه ، ويې فرمایل : ای خلکو! پرتاسي باندي یوې ډیري لويې میاشتي سیوري غوړولی دی . دا ډیره برکتي میاشت ده ، دا هغه میاشت ده چې پدې کې يوه شپه (داسي شته)، چې له زرو میاشتو نه زیاته بهتره ده . الله تعالی د دې روژي فرض کړیدي او ددې د شپو قیام یې تطوع (یعنی نفل) ګرځولی دی ، چا چې پدغه میاشت کې دکومې نیکی په کولو الله ته د ځان نژدي کولو هڅه وکړه نو، هغه د هغه چا په څیر دی چې په نورو ورځو کې کوم فرض اداکړی او چاچې پدغې میاشت کې یو فرض اداکړ نو هغه داسي دی لکه چې په نورو ورځو کې او یا فریضی ادا کړی ـ او رمضان د صبر میاشت ده او د صبر ثواب جنت دی ، او دا میاشت یوله بل سره د همدردي او خوا خوږۍ میاشت ده، داهغه میاشت ده چې د مؤمن روزی پکی پراخه کیږي. که څوک پدې میاشت کي یو روژتي ته روژه ماتی ور کړي او هغه دده دګناوو هولو د مغفرت او د دوزخ له سزا له دده د ژغورلو د خلاصون وسیله ده ، او دده لپاره هماغو مره اجردی څومره چې دهغه روژتی لپاره د روژي نيولو دی بې لـه دي چې دهغه روژتی په اجرکی څه کموالی راغلی وي ـ حضرت سلمان (رض) وائي چې مونږ صحابهوو عرض وکړ: یا رسول الله (ص) ! زمونږ هريو داوس نشته چې یو روژتي ته د افطار خواړه ورکړو؟ رسول الله (ص) و فرمایل : الله تعالی به دغه اجر هغه چاته (هم) ورکړی چې یو روژتي ته دروژه ماتی یو غړپ شیدي ورکړی ، یا یوه دانه کجوره ورکړی، یا یو غړپ او به ورکړي . ـ او څوک چې یو روژتي ته په مړه خیټه خواړه ور کړي نو الله تعالی به هغه ته زماله حوض نه اوبه ورکړی ، (له هغه حوض نه په څړو بیذو سره به) بیا هغه د تندي احساس و نکړي ، تردې پوري چې هغه جنت ته داخل شي ـ او دا هغه میاشت ده چې په پیل کې یې رحمت ، په مینځ کې یې مغفرت او په پای کې یې د دوزخ له اوره خلاصون دی ، او چا چې د رمضان په دوران کې له خپل نوکرانو اسانه خدمت واخیست ، الله تعالی به هغه ته بښنه وکړي او هغه به د دوزخ له اورله وژغوري ـ

پدغې مبارکه خطبه کې رسول کریم علیه افضل التحیته والتسلیم دغې میاشتي ته دلویې او برکتي میاشتې لقب ورکړ ، ددې مطلب دا دی چې پدې کې الله تعالی د مؤمنانو لپاره داسي فرصتونه او زمینې برابر وي چې دوي پکې بې شمیره برکتونه ترلاسه کولای شي . یومؤمن چې پدې میاشت کې د الله تعالی هر څومره زیات عبادت وکړی او هر څومره زیات نیک عملونه پکې سرته ورسوي هغه ټول به دده لپاره د زیات روحاني پرمختګ

وسیله وګرځي ، دانو پخپله د مؤمن کار دی چې له دغه غوره فرصت نه دځان په ګټه څومره استفاده کوي ؟

له یوي خوا پدغي میاشت کي دیوي فریضي ادا کولو اجراو ثواب په نورو وختونو کي د او یا فرایضو په اندازه ونبودل شو او له بلي خوا هر نفلي عبادت د نورو وختونو د فرضي عبادت په درجه کي معرفي شو . د ورځي صیام او دشپې قیام . صیام وظیفه سرته رسول او قیام پروظیفي سربیره د نیکیو رضا- کارانه خدمت دی . د وظیفي او ماموریت تر سره کول د حقیقی مالک او بادار په وړاندي یو انعام او په خپله خوښه او دزړه په مینه د رضاکارانه خدمتونو بل انعام دی .

دغه میاشت په صداقت سره د بندګی مظهر دی ، دبي ریا بندګی ، روژتی دی او خدای . د خدای امر دی او د روژتی مخلصانه اطاعت ، خوړو او بوته بي زړه کیږي ؛ خو خدای د ورځي په اوږ دوکي له خوراک او څښاک نه منع کړیدی نو نه خوراک کوي او نه څښاک ، انساني خواهشات لري خوځکه چي دورځي په اوږدو کي خدای حرام کړیدی نو دغه کنترولوي همداد صبر مفهوم دی ، ځکه خوپه حدیث کي دغه میاشت و ښودل شوه او د صبر بدله جنت.

دغه میاشت د مواسات میاشت ده له مساوات نه د پورته اسلامي عمل . مساوات خو په ضمني ډول راغی ټول مکلف مؤمنان روژه دي ، په هر کور کي روژه ده ، په هره کوڅه کي ، په هر ښار کي ، هر هیواد کي د خدای د غوره بندګی ښه اطاعت مظاهر دي ، ټول مسلمانان په مساوی ډول دغه عبادت سرته رسوي؛ خود برکتونو د عمومیت لپاره د مواسات میاشت و ښودل شوه ، یعني د خواخوږي میاشت ، د خوار انو او مسکینانو د لاس نیوی او معاونت میاشت ، پدي میاشت کي شتمن مؤمنان د لوږی ، تندي په لیدلو د خوارانو له لوږی تندي نه چي به عامو وختونو کي هم ور سره مخ دي ښه خبر یږی نو ، د خپل ایمان په تقاضا له هغو سره خوا خوږي کوي ، مالی معاونت ور سره کوي ، چي همدا ددي میاشتی د برکت مفهوم هم دی .

که چي د رمضان په راتګ د فرضي او نفلي عباداتو ، مادي او معنوي ښیګڼو ، انفرادي او اجتماعی نیکیو عمومي بهسار راشي ؛ نو ور سره جوخت د خدای د رحمت وروښتو نه هم بیل شي ، هره خوا رحمت ، عام رحمت ، پدی اساس پیغمبر (ﷺ) و فرمایل چې ددی میاشتي پیل رحمت دی ، د رمضان منځینو شپو ورځوکی د بنده د عبادت او د خدای د رحمت د لړی د غځیدو په نتیجه کی مؤمنان ددی ور ګرځي چی د خدای مغفرت ور په برخه شي او که چې دا ټوله میاشت مؤمنان پداسي شان تیره کړي چي په صیام او قیام کي څه نیمګړتیا او قصور و نکړي ، له منکراتونه ځان وساتی؛ نو د دوزخ له خطرنه د خدای په فضل ازادي ور په برخه شي . لکه چي په حدیث کي ددي میاشتي پیل رحمت ، مینځ مغفرت او پای نجات ښودل شویدی . .

★

رمضان د صبر او زغم میاشت

«یأیها الذین آمنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون»

رمضان د کال له هغو مبارکو میاشتو څخه ده چې پاک الله ئې په عظیم الشأن قرآن کې په خاصه توگه فضیلت بیان کړی ، او پر مسلمانانو ئې په ځانگړی توگه د ستاینې وړ مکلفیتونه ایښې دي . لکه چې فرمایي :

«شهر رمضان الذی أنزل فیه القرآن ، فمن شهد منکم الشهر فلیصمه ○» (البقره)

رمضان هغه میاشت ده چې په هغې کې قرآن نازل شویدی . نو که له تاسې څخه څوک دې میاشتې ته حاضر شو ، نو تو له دې روژه ونیسي .

د قرآن کریم د نزول شپه هغه برکتناکه شپه ده چې خدای (ج) ورته د قدر او عزت شپه ویلې ده .

«انا انزلناه فی لیلة القدر . وما ادراك ما لیلة القدر . لیلة القدر خیر من ألف شهر ...»

بې شکه چې مونږ دغه قرآن د قدر په شپه نازل کړیدی . او څه پوه کړې چې د قدر شپه څه ده ؟ د قدر شپه تر زرو میاشتو (په عبادت کې) غوره ده .

او په پای کې څرگنده کړم چې رمضان د ښې تربیې او عالي روزنې بې ساري او ناستو مدرسه ده :

د رمضان فضائل :

د رمضان همدا فضیلت بس دی چې قرآن پکې نازل شویدی . او یوه هسې شپه یې په زړه کې ده چې له زرو میاشتو څخه غوره ده . خو پردې سربېره د نړۍ د ستر پیشوا حضرت محمد مصطفی ﷺ د خولې ملغلرې د لته د دې میاشتې د فضائلو په اړه گرانو لوستونکو ته وړاندې کوو ښایي د زړونو تکور او د سترگو رڼایي شي :

۱- عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي ﷺ قال - لما حضر رمضان :-

«قد جاءکم شهر مبارك ، افترض علیکم صیامه ، تفتح فیه أبواب الجنة وتغلق فیه أبواب الجحیم ، وتغل فیه الشیاطین ، فیه لیلة خیر من الف شهر ، من حرم خیرها فقد حرم.»

رواه احمد والنسائي والبیهقي

ابو هریرة رضي الله عنه روایت کړیدی - کله چې رمضان راغی - نبي کریم وفرمایل : بې شکه چې تاسې ته

نو څرنگه چې قرآن د قدر په شپه او په رمضان کې را کوز شویدی. نو ښکاره شوه چې د قدر شپه په رمضان کې ده چې دا پخپله د دغې میاشتې عظمت او غوره والی راښیي .

که ښه ځیر شو په رمضان کې دوه مهم او د پاملرنې وړ ټکي په نظر راځي چې :

یو یې د قرآن نزول - او دویم ئې د روژې فرضیت دی .

چې دا پخپله عظیم او بې ساری مکلفیتونه را په گوته کوي . . .

قرآن د خدای کلام او د مکلفیتونو منبع او سرچینه ده . او روژه د مکلفیتونو په سلسله او لړۍ کې خو را د توجه وړ او ارزښتناك حکم دی . چې د دغو درندو مکلفیتونو او د ندو په غاړه اخیستل او تحمل هرو مرو د صبر او زغم غوښتنه کوي . نو څکه

ویلای شو چی رمضان د صبر او زغم میاشت ده.

پدی لنډه لیکنه کی را ته ښه بریښی چی لوسړی د رمضان فضیلت او ښیګنی وستایم، بیا د روژی، غوښتنی - اداب او ثوابونه وښیم مبار که میاشت راغله، روژه ئی دربانـدی فرض شویده. د جنت د روازی پکی خلاصی، او د دوزخ هغه بندی او شیطانان پکی تړل کیږی. پدی میاشت کی یوه شپه ده چی د ترزرو میاشتو غوره ده. که څوک ددی میاشتی له خیر او ګټو څخه محروم او بی برخی شو، نو په رښتیا چی بی برخی دی.

۲- وعن ابی هریرة (رضی الله عنه) أن النبی صلی الله علیه وسلم قال:

«الصلوات الخمس والجمعة الی الجمعة ورمضان الی رمضان یکفرات لما بینهن اذا اجتنبت الکبائر». رواه مسلم

له ابوهریرة (رضی الله عنه) څخه روایت دی چی حضرت نبی (صلی الله علیه وسلم) فرمایل دی:

پنځه لمونځونـه، یوه جمعه تربلی جمعی، او یو رمضان تربل رمضان پوری د هغو وړو ګناهونو پټوونکی او محوکوونکی دی چی پدی منځ کی شویدی؛ خو هغه وخت چی له کبیره اولو یو ګناهو څخه ډډه شوی وی.

٤- وعن ابی هریرة قال: قـال رسول الله (صلی الله علیه وسلم).

«من صام رمضان ایماناً واحتسابا غفرله ما تقدم من ذنبه».

رواه أحمد واصحاب السنن

له ابو هریـرة څخه روایت دی

او ایمان خاوندان کولی شی...

همدارنګه لوږه او تنده ډیرو ابرو ګسانوته د تحمل وړده خو د خدای په مینه مست مؤمن بیا په سړینو اوږدو او سوځوونکو ورځو کی هم دا تکلیف په غاړه اخیستی او په ډیـره مینه او تلوسه او یو عالم هیلوسره دغه مبارکه میاشت سر تر پایه روژه نیسی او د خدای له رضا څخه پرته بل څه په نظر کی هم نلری. څکه الله تعالی فرمایی: **«الصیام لی وأن اجزی به»** روژه زما لپاره ده او زه ئی اجر او ثواب ورکـوم. په لنـډه توګه د روژی ګټـی دامـی څرګندو لای شو چی:

۱- روژه د خدای د امر پرځای کول دی لکه چی فرمایی:

« ... **فمن شهد منکم الشهر فلیصمه**» څوک چی د رمضان میاشتی ته حاضر شو (یعنی رمضان پری راغی) نو هغه میاشت دی روژه ولیسی.

او ښکاره ده چی د خدای د هر امر پرځای کول د اجرونو او ثوابونو سرچینه ده، او د خدای د نعمتونو کای او وسیله.

۲- روژه له ګناهونـو څخه خلاصون دی لکه چی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایل: «**لا یصوم عبد یوما فی سبیل الله الا باعدالله** چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

چاکه د ایمان او ثواب پخاطر د رمضان روژه ونیوله، ټول تیر ګناهونه به ئی وربښل شی.

داو د رمضان عام فضیلت.

خو هغه څه چی رمضان له نورو

میاشتو څخه په عملی عباداتو کی بیلوی هغه ددی میاشتی روژه او عبادت دی .

چی دادی په لنډه توګه پدی هکله څه لنډه کتنه او لیکنه ورونو ته وړاندی کوو :

د روژی فضیلت او ګټی :

دا چی وایو رمضان د صبر او زغم میاشت ده ، لوی دلیل ئی د دی میاشتی روژه نیول دی .

روژه په عربی ژبه کی (صوم) بلل کیږی او معنی ئی دده کول دی او په شرعی اصطلاح کی له سپیده داغ نه تر لمرویدو پوری له خوراک څښاک او جماع څخه ځان ساتلو ته روژه وایی .

هو! روژه یوازی هغه د ایمان او کلکی عقیدی خاوندان نیولی شی چی د نفس او هوا د غورځنګونو په وړاندی د زغم ، صبر ، مقاومت او ټینګار څښتنان وی .

په انسان کی خو را مشهوره او پیاوړی غریزه جنسی غریزه ده چی د هغی مهارول د تصمیم

بذلك الیوم النار عن وجهه سبعین حریفا» .

رواه الجماعة الا أبا داود عن حدیث ابی سعید الحذری

یو بنده د خدای په لاره کی یوه ورځ روژه نه نیسی مګر دا چی پدی کار به خدای د ده له مخ نه او یا (۷۰) کاله د دوزخ اور لری کړی . یعنی هر چا که د خدای د رضا په خاطر روژه ونیوله د دوزخ له اوره به نجات ومومی :

له ګناهو څخه خلاصون په دوو طریقو سره کیږی :

الف :- د تیرو ګناهو د بښنی په بڼه کی لکه چی رسول الله فرمایلی دی :

«من صام رمضان ایمانا واحتسابا غفرله ما تقدم من ذنبه» .

رواه أحمد وأصحاب السنن

ب :- له راتلونکو ګناهونو څخه د ژغورنی په بڼه کی ؛ یعنی دا چی روژه د ګناهونو په وړاندی سپر او مانع ده لکه چی آنحضرت (ﷺ) فرمایلی دی : **«الصیام جنة ، فاذا کان احدکم صائما فلا یرفث ولا یجهل فان امرؤ قاتله**

أو شاتمه فلیقل : انی صائم مرتین . . .

رواه البخاری وابو داؤد من حدیث أبی هریرة

روژه د ګناهونو په مقابل کی سپر (ډال) ده . نو که چی یو له تاسی روژه لرونکی وی ؛ نو بدی او پوچی خبری دی نکوی ، او ندی په قهر کیږی . او که چا ورسره جګړه کوله او یائی کنځلی ورته کولی نو دوه کرته دی ورته ووائی چی (زه روژه یم)

همدارنګه د طب او مشاهدی له مخی دا ښکاره ده چی نه خوراك او نه څښاک د بدن جسمی قوه کمزوری کوی او ډیر غرائز تر اداری او کنترول لاندی راولی لکه چی حضرت پیغمبر (ﷺ) هغو ځوانانو ته د روژی نیولو توصیه کړیده چی د نکاح کولو توان نلری ، او غواړی د زنا

له گناه څخه بچ پاتی شی :

«یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فان لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاء .

ای د ځوانانو ډلی که له تاسی څخه څوک د نکاح توان لری نو ازدواج (واده) دی وکړی او که یی نشی کولای نو لازمه ده چی روژه ونیسی . ځکه دا کار د شهوت د طغیان مانع دی .

٤- روژه د اجرونو او ثوابونو او نعمتونو منبع ده :

د روژی نیولو په نتیجه کی انسان خدای ته ور نژدی کیږی . او الله تعالی د پوره پوره اجرونو وعده ورکړیده . په دنیا او آخرت کی ورته خوشحالی پیښیږی . او کله چی جنت ته ننوځی د (ریان) له خاصی دروازی څخه ور داخلیږی . لکه چی دغه مطالب په لنډه توگه نبوی احادیثو څرگند کړیدی .

قال رسول الله (ﷺ) :

«والذی نفس محمد بیده لخلوف فم الصائم أطیب عندالله من ریح المسک یترک طعامه وشرابه وشهوته من أجلی . الصیام لی وأنا أجزی به والحسنة بعشر أمثالها .»

رواه البخاری وأبو داؤد من حدیث أبی هریرة

په هغه ذات قسم چی د محمد (ﷺ) نفس یی په لاس کی دی چی د روژه تی د خولی بوی د خدای په وړاندی د مشکو او عطرو تر خوشبوئی ډیر غوره دی .

(الله فرمایی) روژه تی زما لپاره خپل خوراک څښاک او شهوت پریږدی . روژه زما لپاره ده اوزه ئی اجر او عوض ورکوم په داسی توگه چی یوه نیکی په لس برابره اجر او ثواب سره .

په همدی حدیث کی امام احمد، مسلم او نسائی په روایت داسی راغلی دی :

«وللصائم فرحتان یفرحهما : اذا أفطر فرح بفطره ، واذا لقی ربه فرح بصومه» .

د روژه تی لپاره دوه خوشحالی دی چی پری خوشحالیږی . یوه هغه وخت چی روژه ماته کړی ، په خپل روژه ماتی خوشحالیږی . او بله هغه وخت چی له خپل رب سره مخامخ کیږی ، په خپل روژی نیولو خوشحالیږی .

سبحان الله ! پداسی حال کی چی ټول عبادتونه یوازی د الله (جل جلاله) لپاره دی بیاهم پخپله الله سبحانه وتعالی یوازی روژه ځانته منسوبه کړی ده او وائی (الصیام لی) روژه زما ده ؛ دا ځکه چی نور عبادتونه غالبا په سترگو لیدل کیږی ، په حواسو درک کیږی . خاوند یی کولای شی ، له ریاء او ځانښودنی نه کار واخلی؛ خو په روژه کی دا کار نه کیدونکی دی ؛ ځکه روژه له امساک او ځان ژغورلو او نه کولو څخه عبارت ده . او نه کول چی عدم دی څرنگه امکان لری چی خارجی وجود ولری او خلکو ته وروښودل شی ؟! او

که څوک وغواړي په هره ګوښه کی ئی ما تولی شی . خو ریښتیاهم همدغه د خدای مینه او ویره ده چی انسان ته ئی د دوسترو سرکشو (ګیډی او فرج یعنی شهوت) د غرائزو په وړاندی خورا عظیم ټینګار او مقاومت وربښلی دی . او همدا وجه ده چی الله تعالی ورته په ډیر اجر او ثواب قائل شویدی او وائی (وأنا اجزی به) او زه یم چی د هغې اجر او ثواب ورکوم او دا کار یوازی له ما څخه پوره دی دی اوبس .

همدارنګه په بل حدیث شریف کی راغلی دی :

وعن سهل بن سعد أن النبی (ﷺ) قال :

ان للجنة بابا يقال له الريان ، يقال يوم القيامة : أين الصائمون؟ فاذا دخل آخر هم أغلق ذلك الباب». رواه البخاری ومسلم

د جنت یوه دروازه ده چی (الریان) یعنی خړو به او سیراب نومیږی ، د قیامت په ورځ به غیر کیږی چی چیری دی روژه دران ؟ روژه تیان به له همدغی د روازی څخه جنت ته ننوزی کله چی ور - وستنی روژتی ننوت دغه ورهم تړل کیږی .

٤- روژه د قیامت په ورځ شفاعت کوی :

د روژی د شفاعت او مخ کیدو په هکله آنحضرت (ﷺ) داسی فرمایلی :

«الصيام و القرآن يشفعان للعبد يوم القيامة . يقول الصيام أی رب منعته الطعام و الشهوات بالنهار فشفعنی فيه . و يقول القرآن : منعته النوم بالليل ، فشفعنی فيه ، فيشفعان» رواه احمد بسند صحیح من حدیث عبدالله بن عمرو .

روژه او قرآن دواړه د قیامت په ورځ د بنده د لپاره شفاعت کوی .

روژه وائی : ای پروردګاره ما له خوراک او شهوت څخه منع کړی و ؛ نوزما شفاعت د ده په هکله ومنه ! قرآن کریم وائی : ما د شپی له خواړه خو به منع کړی و ، نو زما شفاعت د ده په هکله ومنه . په پای کی د دواړو شفاعت منل کیږی .

٥- روژه صحی ګټی هم لری او بدن ته خورا ګټوره ده :

الف : ټول طبیبان او ډاکتران اتفاق لری چی چاغی او په بدن کی واز دی چی له ډیر او رنګا - رنګ خو راکونو څخه را پیدا کیږی بدن ته مضر او خورا خطرناک دی .

د وینی د فشار مهلک مرض ، د زړه حمله او سکته - د شکری ناروغی او داسی نور جسمی تکالیف ټول له چاغوالی څخه را پیدا کیږی. چی روژه د دی امراضو کلک مانع او مخنیوونکی ده ، اوتل د دغو نار وغیو د علاج لپاره طبیبانو د پرهیز او غذائی رژیم توصیه کړیده .

ب : د خوراک په هکله اسراف او تیری ډیر ځله د هضمی جهاز د اختلال ، اسهال ، پیچش

او تخمې (تهیدو) سبب کیږی چی د دی امراضو مخنیوی غالباً د پرهیز له لاری امکان لرونکی دی لکه مشهور متل دی :

(المعدة بیت الداء و الحمیة رأس الدواء)

ګیډه د ناروغیو خونه او پرهیز د دواء (درمل) سردی .

۶- اجتماعی ګټی :

کله چی روژه تی له لوږی او تندی سره مخامخ کیږی ، هرومرو د هغه محتاج فقیر اوبی وزلی حال ور په یادیږی چی تل شپې اوورځی په لوږی تیروی . نوځکه ئی ایمانی او انسانی عاطفه را پارېږی او د خیراتونو، زکاتونو او نورو هرډول مرستو په ورکړه پیل کوی . لکه چی دغه حالت پخپله پیغمبر (ﷺ) ته هم پیښیده :

په یو حدیث کی راغلی دی چی :

«کان رسول الله اجود الناس ، و اجود ما یکون فی رمضان حین یلقاه جبریل . وکان یلقاه فی کل لیلة من رمضان فیدارسه القران . فلرسول الله (ﷺ) أجود بالخیر من الریح المرسلة» رواه البخاری من حدیث ، بن عباس .

رسول الله (ﷺ) ترټولو خلکو ډیر سخی او جواد ؤ . اوزیات زیات بیا په رمضان کی . که به چی جبرائیل (ع) ورسره مخامخ کیده . او د رمضان په هره سپه کی به ئی ورسره ملاقات کاوه . او قرآن مجید به ئی ورسره تکرار اوه . نو رسول الله (ﷺ) په ورکړه د خیر په چارو کی تر ګټور باده هم ګړندی ؤ .

۷- د روژی د دعاء منل کیدل :

د روژه تی یوبل فضیلت هم دی چی د عایی د خدای په دربار کی منل کیږی . لکه رسول الله (ﷺ) فرمایلی دی :

«ان للصایم عند فطره دعوة ماترد» رواه ابن ماجة من حدیث عمر و بن العاص

بی شکه چی روژتی د افطار په وخت یوه دعاء لری چی هیځکله نه رد کیږی . یعنی هرومرو منل کیږی .

همدارنګه یی په بل ځای کی فرمایلی :

«ثلاثة لاترد دعوتهم : الصائم حتی یفطر ، و الامام العادل و المظلوم»

رواه الترمذی بسند حسن .

دری کسان دی چی دعایی نه ردیږی :

یو روژتی تر هغو چی روژه ما ته کړی ، بل عادل امیر او دریم مظلوم .

نو د روژه تی لپاره لازم دی چی له دغه طلایی فرصت څخه ګټه واخلی او د خپلو فردی او اجتماعی اړتیاو ود پوره کولو او د اسلام او مسلمانانو د بری په منظور په دی مبارکی میاشتی کی له دعاء څخه . چی د عبادت مغز بلل شویده - کار واخلی او دلوی څښتن تعالی عنایت او پیرزوینی ځان ته . راواړوی .

۸- روژه د صبر اوزغم عملی تربیه ده :

ددی لیکنی وروستی پړاو له سرلیک سره په ارتباط کی دروژی هغه اړخ ته اشاره ده چی غواړم دلوستونکو زیاته توجه ورته را وګرځوم داځکه چی همداوس اوس د ګران هیواد افغانستان د ننه کی د کفر الحاد او کمونیزم له انسان دښمن ښکیلاک سره په مقابله کی زمونږ لنګیالی مؤمن مجاهد جنګیږی . او په قدم قدم کی د اسلامی ارشاداتو مراعات او تطبیق مونږ ته عملی درسونه او د خپلی عقیدی دلا پخوالی اوټینګیدو دلائل اونبی را په ګوته کوی . د الله معجزه آسا نصرتونه او مرستی له یوه پلوه او دمؤمنو عناصر و عبادتی تربیت له بل پلوه دوی ته د مقاومت او بلکه

بری توفیق ورپه برخه کړی دی. د مثال په توګه: روژه هغه کلنی عبادت دی چې پوره یوه میاشت مسلمانان پکی عملی تربیت او ترینګ اخلی. د لوږی، تندی او نورو غرائزو مهارول په نورو ادیانو او رژیمونو کی په هغه شان مطرح ندی لکه چې په اسلام کی ورته پاملرنه شویده. د دغی پاملرنی عملی نتائج مونږ یوازی په مسلمانوعناصرو کی وینو. ځکه هغه مقاومت چې مسلمانان ئې د خوراک، څښاک او شهوت په وړاندی لری، په بل چا کی نه لیدل کیږی. او داځکه چې هر مسلمان په کال کی یوځل دغه عملی درس د عبادت او خدای ته د نژدی کیدو په روحیه اخلی نوځکه په ډاکه ویلای شو: کوم مقاومت، صبر او زغم چې مسلمان لری په بل مکتب او عقیدوی او فکری روش کی نه موندل کیږی.

دا لاځه چې د معنوی تحمل، حلم او عالی اخلاقو کسب او ترلاسه کول بیاهم له همدغی لاری ډیر ممکن دی.

ځکه روژه نه یوازی له خوراک، څښاک او شهوت څخه ډډه کول دی بلکه له بدو چارو او ویناوو څخه په کلکه ځان ساتل او د مسلمان په وړاندی د حلم او تحمل څخه کار اخیستل دی. نه‌ګوری چې حضرت پیغمبر (ﷺ) د روژی د آدابو په هکله داسی فرمایلی:

«الصیام جنة. فاذا کان أحدکم صائما فلایرفث ولا یجهل. فان امرؤ قاتله اوشاتمه فلیقل انی صائم مرتین»

رواه البخاری

روژه د ګناهو په وړاندی ډال او سپر ده. (یعنی روژتی نه پریږدی چې ګناه وکړی). نوکه له تاسی څخه یوڅوک روژتی وی؛ نو بدی خبری دی نکوی او په چادی په قهر او غضب کیږدی نه، (بلکه له صبر، تحمل اوزغم څخه دی کار اخلی) او که چا ور سره جګړه کوله او یائی کنځاوی ورته وکړی؛ نو ورته و دی وائی چې زه روژه یم. او دا خبره دی د وه کرته تکرار کړی. پدی معنی چې روژه اصلاً له‌ګناهونو څخه پرهیز دی نه دا چې یوازی خوله او ګیډه وتړی.

ځکه بل ځای د روژی د حق د ساتلو په هکله پیغمبر (ﷺ) فرمایلی دی:

«من لم یدع قول الزور و العمل به، فلیس لله حاجة فی أن یدع طعامه وشرابه.» رواه الجماعة من حدیث ابی هریرة.

که چا دروغ او په دروغو عمل پری نښود. نو خدای (ج) دی ته حاجت نلری چې دی خوراک او څښاک پریږدی.

بل ځای فرمایلی: **«رب صائم لیس له من صیامه الا الجوع. ورب قائم لیس له من قیامه الا السهر»** رواه النسائی وابن ماجة وا کا کم وقال صیحح علی شرط البخاری.

ډیر ځله یوه روژتی تـه له خپلی روژی څخه بی لـه لوږی نور څه نوی. او ډیر ځله یـو لمونځ کو ونکی‌ته‌له خپل لمانځه نه له بی خوبی او ستړیا څخه بل څه نه ورپـه برخـه کیږی - الله پاک دی زمونږ روژی حقیقی د منلوور وګرزوی. (آمین)



د روح پسرلی

د حمید الله ژباړه

روژه له همیشه راهسی د خدائی شریعتونو یوه له پیلیدولکی برخه ده. د ټولو پیغمبرانو (علیهم السلام) په مذهب کی د فرض په توګه شامله وه . لکه په سورهٔ بقره کی چی ارشاد دی .

(کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم)

«پرتاسی بالدی روژه (داسی) فرض کړی شوی لکه له تاسی نه پرمخکینیو باندی چی فرض کړی شوی وه»

له دی له پخپله دا څرګندیږی چی؟ د اسلام له فطرت سره دروژی د دی لاری ضرور کوم مناسبت شته .

د روژی اثرات ـ

روژه په کال کی د یوی میاشتی یو ځانګری تربیتی نظام دی چی مسلمان تقریباً تر ۷۲۰ ساعتو پوری پرله پسی په خپل ټینګ نظم او شکنجه کی ساتی ، چی په ورځنی معمولی تربیت یعنی پنځه وخته لمانځه کی چی کوم اثرات خفیف وو هغه شدید شی .

د روژی قانون دا دی چی د شپی د اخر د راختو د لومړی نښی له ښکاره کیدو سره سم ناځا په هر سړی ترلمر پریواته پوری خوراک، څښاك او مباشرت ټول حرام شی . بیا د ماښام دیو خاص وخت په راتګ سره ناځا په د حرمت بندیز لری شی، هغه ټول شیان چی له شیبه مخکی حرام وی ، یودم حلال شی ، او ټوله شپه حلال وی ، تردی پوری چی د بلی ورځی د ټاکلی ساعت په راتلو سره بیا د حرمت جندره ولګیږی.

د روژی له لومړی نیتی له دا کار پیل او تر یوی میاشی پوری مسلسل جاری وی ، یعنی تر پوره دیرش ورځو پوری سړی تر یو سخت نظم لاندی ساتل کیږی ـ په ټاکلی وخت پیشمنی وکړی ، په ټاکلی وخت روژه ماتی وکړی . تر هغه پوری چی اجازه وی د نفس غوښتنی پوره کړی او چی کله اجازه سلب شی نو له هر هغه څیزنه، بند شی چی ورنه منع نه و .

د بندګی احساس

په روژه کی مسلسل دولس د یارلس ساعته له خوراک ، څښاک او مباشرت نه بندوی ، له سپیده داغ سره د نفسی خواهشاتو له پوره کولو نه یو ناځا په لاس وباسی او د روژه ماتی له راتلو سره سم هغه لورته داسی وردانګی چی ګویا فی الواقع دهغه پلاسو، خوله او حلق باندی د بل چا حکومت دی او کله چی و غواړی پندو لای یی شی او کله چی و غواړی خلاصولای ئی شی . ددی معنی داده چی په دی دوران کی د خدای (ج) د حکومت او د خپلی بندګی احساس پرسړی هر وخت سوروی . او بشپړه یو میاشت دا احساس دهغه له شعور او یا تحت الشعورنه یوه شیبه هم نه ور کیږی .

د امر اطاعت

د روژی مقصد سړی ته د هغه اطاعت روزنه ورکول دی

چې د بندګۍ له احساس سره
د هغه د لازمي نتیجې په
ډول پیدا کیږي ، **روژه پوره
یوه میاشت سړي پداسي حال
کي ساتي چې حتی د وړکوټي
ضرورت د پوره کولو په خاطر
هم د خدای (ج) اجازه په نظر
کي نیسي. د ډوډۍ یو کپ او
او یو غړپ هم له ستوني نه
تیروي ترڅو چې د خدای (ج)
له خوا اجازه ورته ونشي .** څه
شي چې هلته حلال دي هغه
د ده لپاره حلال دي که ټوله
دنیا هم د هغه د حرامولو لپاره
متفق شي . او څه شي چې هلته
حرام دي هغه د ده لپاره حرام
دي؛ که ټوله نړۍ هم هغه حلال
وګڼي . بیا له خپل نفس له
واخله د دنیا تر هر انسان پوري
او هرې اداري پوري داسي

طاقت نشته چې مسلمان د هغه
په حکم په رمضان کې روژه ماته
کړي. په دې ډول د روژه تې پر زړه
دا خبره نقش شي چې هغه دیو
خاوند بنده دی او دیوه قانون
پیرو او دیوه اطاعت کړي یی
په غاړه کي پرته ده ، پدې ډول
روژه د انسان فرمانبرداري او
اطاعتونه له هرې خوا را ټول
کړي او د یو مرکزي قوت
لورته ئې وګرځوي ، او تریوی
میاشتي پوري ئې هره ورځ
(۱۲-۱۷) ساعته په یوه خوا
کي را ټول کړي وي . ددې لپاره
که له روژې ، وروسته کله
د ډسپلین بند ایله شي نو چې
هغه د اطاعتونو او فرمانبرداري
لار غلطه نکړي .

روژې روح

د رمضان د روژې اصلي روح
دادی چې د روژه‌تې مسلمان پر ذهن
د خدای (ج) د خدائی او خپلی
بندګي او غلامي احساس په
بشپړ ډول غالب شي . او هغه
داسي دامر مطیع شي چې له
هر هغه څه نه چې خدای (ج)
بند کړي ، بند شي او د هر هغه
کار لورته وځغلي چې خدای (ج)
ئې حکم کړي . د روژې د
فرضیت اصل مقصد همداسي
کیفیت پیدا کول او هغه ته
وده ورکول نه یواځې له
خوراک، څښاک او مباشرت نه
منع کول دي؛ بلکې دا کیفیت چې
څومره ډیروي دومره روژه بشپړه
ده. او څومره چې پکې کمي وي
همغومره روژه ناقصه ده .

که چا پداسي احمقانه طریقه روژه
ونیوله چې په کوموشیانو چې
روژه ماتیږي له هغه نه ئې ده ډه
وکړه او د نورو هغو کړو چې
خدای (ج) منع کړي مرتکب
شو ، نو د ده روژه داسي مثال
لري لکه د مړي لاش چې
انساني غړي پکې ټول پوره وي؛
خوروح چې انسان پرې انسان وي
پکې نه وي لکه څنګه چې بې روحه
انسان ته انسان نه ویل کیږي؛
په همدې ډول داسي بې روحه
روژې ته هم څوک روژه نشي
ویلای . همداسي ده چې نبي
کریم (ﷺ) فرمایلي دي .

من لم یدع قول الزور والعمل
بـه فلیس لله حاجـة فی ان یدع
طعامه و شرابه .

«چا چی دروغ ویل او پـه
دروغو عمل کـول پری نښودل،
خـدای (ج) ته د هغه د نـه
خوراک او څښاک ضرورت نشته»

د دروغوله ویلو سره په دروغو
د عمل کولو ارشاد ځیر له معنی
نه ډک دی . اصلاً دا ټکی د ټولو
نافرمانیو جمع ده ، ځوک چی
خدای (ج) تـه خدای (ج) وائی
او بیا د هغه نافرمانی کوی په
حقیقت کی هغه خپل اقرار تکذ-
یبوی . د روژی اصل مقصد پـه
عمل د اقرار تصدیق کول وو؛
خوکله چی د روژی پـه وخت
د هغی تکذیب وکړای شی نوبیا
هغه په روژه کی له لوږی او تندی
نه پرته څه پاتی شول ؟

همدا خبره رسولکریم (ص) په
بل انـداز کی داسی فرمائلی ده:
لیس له من صیامه الا انظأ وکم
من قایم لیس له من قیامه الا
السهر .

ده (کاذب روژتی ته) له روژی
نه بی له لوږی او تندی نور هیڅ
نه وی او ځینی دشپی و دریدونکی
دی چی لـه شوګیره پرته هیڅ
پلاس نه ورځی»

همدا خبره ده چی قران کریم
په واضح ټکوکی داسی فرمایلی:
«په تاسی باندی روژه فرض کړای
شوی لکه له تاسی نه پر مخکنیو
باندی چی فرض شـوی وه»
(د دی لپاره) چی وویرـړی
البقره : ۱۸۳

یعنی د روژی د فرض کولو مقصد دا دی چی په انسان کی د تقوی صفت پیداشی . د ژوند پرکومه لار چی انسان سفر کوی له دواړو خواوو نه دافراط اوتفریط، خواهشاتو ، د نفسی تمایلاتو ، وسوسو او تر غیبالو ، گمراهیو او نافرمانیو له اغزنو بوټو نه ډکـه ده . پدی لار له اغزو
نـه خپله لمن ساتـل او له حـق
لاری څخه نه ګرزیـدل او د بد
کرداری لـه غنو نه ځـان پـه
خنګ کـول تقوا ده . او د
همدی تقوی د پیدا کولو لپاره
خـدای (ج) روژی فـرض کړی
دی، دا یوه مقوی دوا ده چی د
خدا ترسی او پرسهی لاری دتلو بو
قوت ورکوونکی خاصیت پکی دی.

د روژی نتائج

که انسان د روژی په اصل
مقصد پوه شی او کوم قوت چی
روژه ورکوی ، د هغه اخیستوته
تیار شی او د روژی په مرسته
په ځان کی له خدای (ج) نه
د ویری او د اطاعت صفت تـه
د ودی ورکولو هڅه وکړی ؛ نو
دا ځیز په هغه کی دومره تقوا
پیدا کولای شی ، چی نه یواځی
په روژه بلکه د کال په نورو میاشتو
کی هم د ژونـد په لویـه لار له
پرتوا غزنو بوټونـه خپله لم .
ساتلی شی .

لوړ نصب العین لپاره یو داسی
کار کوی چی نتیجه یی له مرګ
نه وروسته په بل ژوند پوری تړلی
ده ، د کار په دوران کی په خپله
خوښه د نفس خواهشات بندوی ،
په سخته ګرمی کی یی سری
له تندی ، وچه کلکه وی ، سری

او به يې په مخ کې پرتې وي ، په اسانۍ يې خټلې شي خونه يې خټېږي، له لوږې نه يې ډېر بد حال وي خواړه شته که وغواړي ؛ نو خوړلې يې شي؛ خو نه يې خوري .

دا کيفيات چې يو قوت تري جوړيږي او د روژه تې په نفس کې ځای نيسي او هر کال د ديرشو روژو په نيولو د هغه له جبلت سره پيوند اخلي . د دې لپاره ندی چې دا صفات يواځې په روژه نيولو او روژه کې په کار راشي؛ بلکه ددې لپاره دي چې له همدې اجزاوو نه د انسان خميره جوړه شي .

له فسق او فجوره ، خالي شي ، او په ټول ژوندکې د تقوی لاره غوره کړي . د دې مقصد لپاره له روژې نه پرته بله ښه لاراو وسيله ممکنه نده .

نفس مهارول

د روژې په مقاصد وکې يو مهم مقصد د انسان حيواني جسم ته قدرت ښښل دی .، غذا ،

پدې ډول د روژې د نتائجو (ثواب) او ګټو (اجر) هيڅ حد نشته ؛ خو که له اصل مقصد نه غافل شي او يو ورځ روژه نه ماتول ، روژه و ګڼي او د تقوی د لاس ته راوستو خواته هيڅ پاملرنه ونه کړي ؛ نو په

داګه ويلای شو چې په خپله عمل نامه کې به له لوږې او تندې پرته نور هيڅ بيانه مومي . له دې کبله رسولکريم ﷺ فرمائي .

کل عمل ابن آدم يضاعف الحسنة بعشر امثالها الی سبع مائة ضعف قال الله تعالی الا الصوم فانه لی وانا اجزی به .

(د انسان هر عمل د خدای(ج) په نزد څه ناڅه زياتيږي يوه نيکي له لسو نه ترشل برابره زياتوي ؛ خو خدای(ج) فرمائي روژه مستثنی ده ، هغه زما په خوښې پورې اړه لري چې څومره وغواړم د هغې بدله ورکوم ؛ يعني د روژې په معامله کې د ډير والي امکان بې حده او بې حسابه دی ، سړی چې څومره تری د تقوی د لاس ته راوستو هڅه وکړي همغومره زياتيدای شي ؛ نو دا معامله د سړي پخپل استعداد پورې اړه لري .

د سيرت تعمير (اخلاق سمون)

روژه تې د خدای(ج) د رضا د **مباشرت او د له منځه تللې قوت د بيالاس ته راوستو لپاره ارام دری واړه د ټولو خواهشاتو** مبداء دي . **دادری واړه له هغه حيوان سره داسې قوی وسلې دي چې د هغو په زور زمونږ د تابع کولو لپاره را پورته کيږي . روژه همدا دری عوامل په خپله قبضه کې راولي او ټينګې واګې پکې اچوي او زمونږ د هغه خودی په لاس يې را کوي چې په خدای (ج) مو ايمان راوړی او د هغه په ښودلې لاره مود تللو عزم کړی .**

د روژې په حالت کې دا حيوان خواړه او اوبه غواړي خو مونږ ورته هيڅ نه ورکوو . **هغه وائي چې ښه ده په سګرټو ، نسوارو او . . . خومې تسکين وکړه ؛** خو د هغه غوښتنه ردوو . تواه

دوښ د هغه د خواهشاتو په ردولو سره مونږ ورته د خپل ځښتن په ټاکلي وخت خواړه او اوبه ورکوو ، اوس دی ستړی ستومانه غواړي چی ارام وکړی ، خو د ساسخوتن د اذان په اوریدو سره سم تی لـه ستـه نیسو او جومـات تـه یي بیایو . پرلهاسخه سریبره یي د تراویحـو پـه ډیـرو رکعتونو کی هم و دروو . لـدی تهدید نه په وتلو خوار د خوب لپاره منډه وهی ، چی د سهار ... راوري؛ خو د شپی په وروستی برخـه کی یي پداسی چابک وهـو چی تولـه نشه یي والوځی ، بیا د ورتـه وایو چی زمونږ د مالک حکم دی چی د ورځی هر ځای د شپی وخت د خوړو او اوبو ورکولـو دی نو که ځـه خـوړل غواړی اوس یي وخوره .

د دی تمرین په ذریعه چی هر کال دیرش ، نه ویشت ورځي ئي مونږ سرته رسوو ، د خپل جسم او جسماني قوتونو با اختیار حاکمان يئ گرځوو . زمونږ د حیواني خواهشاتو جابرانه قهرماني های ته رسیږی او په مونږ کی دو مره طاقت پیدا کیږی چی خپل کوم خواهش تر کومه چی وغواړو مهار ئي کړو . او له خپل هر قوت نه چی ځنګه وغواړو کار واخلو ، کولای شو .

د درانه کار د سرته رسولو لپاره په هر دول چی وی ، د سړی په ځردی کی دو مره طاقت باید وی چی د نفس خواهشات په کنټرول کی و ساتلی شي او خدای (ج) ورکړی قوتونه له خپلی ارادی سره په کار واچولی شي . له دی کبله یي د رمضان له فرض روژونه نه پرته په کال کی که نفلی روژی هم غوره گڼلی دی چـی د اقتـدار واکی یي مضبوطی اوسی .

په روژه او نفس وژنه کی فرق

په هغه اقتدار کی چی اسلامی روژه ئي انساني خو دی تـه هغه په نفس او جسم ورکوی ، او په هغه اقتدار کی چی په غیر اسلامی دول د نفس وژنی په تمرینونو یا ارادی قوت ته دودی په ورزشونو کی لاس ته راځی یا هغه چی په فطری دول لویو خلکوته په پخپله لاس ته ورځی ، اصولی او ښکاره فرق دی .

دا دریم دول اقتدار خو اصلاً د بو دلسی جاهلی او مطلق۔ العناني خو دی استبداد دي چی له ځان نه د پورته کوم حاکم مطیع ، د کوم قانون او ضبط پابند او د کوم علم تابع نه دی. هغه چی پـه خپلو جسماني او نفساني قوتونو يي کومه فرمانروائی حاصله وی ، لازمه نه ده ؛ بلکه ممکنه نده چی هغه د صحیح مقصد لپاره په صحیح طریقـه استعمال کړی .

د همدی دول اقتدار له کبله انسان له خپل فطرت سره جنگیدلی او هغه خپل صلاحیتونه د تهذیبی او تمدني لوړوالی پرځای یي نه تنزل او انحطاط نه قربان کړی .

د همدی اقتدار له کبله ډیرو لـویو خلکو د خـدای (ج) پـه بندهگانو د خپلی خدائی مساط کولو هڅه کړی ده او خپل قوتونه يي د حق پرځـای د ظلم پـه لار کارولی دی .

د دی پرعکس اسلامـی روژه چی کومه خو دی نفس او جسم ته اقتدار ورکوی هغه مطلق‌العنان نده بلکه د خدای (ج) او د هغه د قانون اطاعت کوونکی خودی ده . هغه داسی خودی نده چی په خپله د ځان رهنما وی؛ بلکه د خـدای (ج) پـه لارښوونه کی تلونکی خودی ده . هغه د خدای (جـل جلاله) ورکـړی نفس او جسم خپـل ملکیت نـه؛ بلکه د خدايي (ج) امانت گڼی او پدی امانت د خدای (ج) له منشا سره سم حکومت کوی .

یو مؤمن او متقـی انسان بـه خپل حیوانی جسم ته ښه خواړه ، ښه پوښاک ورکوی او په ښه کور کی به يي اوسوی ، ډیر ارام بـه

ورکوی او د هغه د هری فطری جذبې د تسکین وسایل به برابر - وی . د دی لپاره نه چی د هغه نفس دا غواړی، بلکی د دی لپاره چی خدای (ج) د هغه حق ټاکلی دی او دا حق ادا کول د خدای (جل‌جلاله) د خوښی موجب دی .

البته هغه نفس چی د خپلو فطری مقاصدو د تسکین لپاره د داسی تدبیرونو د اختیارولو غوښتنه کوی، چی هغه خدای (ج) ندی خوښ کړی او د خدائی حدودو ماتول وغواړی، مؤمن به د خپلو حاکمانه اختیاراتو په پوره شدت په استعمالولو سره هغه د نافرمانی او سرکشی له لاری اړوی او سمی لاری ته به یی بیایی

د اجتماعی صالح نظام تشکیل

د لمانځه په څیر روژه هم د حکیمانه تدبیر د انفرادی عمل پرځای د اجتماعی عمل په جوړولو کی دومره فایدی او گټی لری چی حساب یی نه نشی کیدای . هغه تدبیر بس دومره دی چی د روژی د نیولو لپاره یی یوه خاصه میاشت ټاکلی ده . که د شارع په نظر یواځی د خلکو اخلاقی روزنه وای نو د دی لپاره دا حکم کافی و چی هر مسلمان دی په کال کی دیرش ورځی روژه ونیسی ، بلکی د ضبط نفس لپاره دا صورت ډیر مناسب وه؛خو د اسلام قانون چی کوم حکیم جوړ کړی د هغه په نظر د داسی خلکو روزنه هیڅ بکار نده چی په نتیجه کی یی یو صالح جماعت منځ ته رانشی، له دی کبله هغه روژه یوازی انفرادی عمل گرځول ندی خوښ کړی ، بلکی په کال کی یی یوه میاشت د روژی لپاره خاصه کړی چی مسلمانان په یووخت روژه ونیسی او همغه نظام تربیت چی خلک ړی جوړیږی د یو صالح اجتماعی نظام په جوړولو کی مرسته وکړی .

د ټولنی روحانی سپیڅلتیا

د روژی میاشت د خیر اصلاح او تقوی او طهارت نوم دی، چی بدی پکی ټوایږی او نیکی خوریږی او په ټولو خلکو د خدای ویره او د خیر او ښینی روح غالبیږی او هـره خوا د پرهیزگاری سمسوره ځمکه ښکاری ، دغه وخت انسان ته د گناه په کولو شرم ورځی هرڅوك پکی له گناه نه د ځان ساتلو هڅه کوی . او خپل کوم بل ورور چی په گناه وگوری ، شرم وراچوی - د هریو په زړه کی دا خواهش وی چی څه ناڅه د نیکی کار وکړی . که چیرته د نیکی کارکیږی چی برخه پکی واخلی ، که چیر ته بدی کیږی چی مخنیوی یی کړی . دغسی د خلکو زړونه نرمیږی ، له ظلم نه یی لاس ودریږی .

لنډه دا چی د یوه زبردست حکیمانه تدبیر شارع داسی انتظام کړی چی . هر کال ټوله اسلامی نړی د یوی میاشتی لپاره سپیڅلی کیږی او ترمیم یی کیږی او په مجموعی توگه اسلامی روح بیاژوندی شی .

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ

كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝

ترجمه

مؤمنانو ! پرتاسي روژه (داسي) فرض کړای شویده
(لکه) له تاسي پرمخکینوچې فرض کړای شوې وه ددې
لپاره چې پرهیزګاراوسئ .

بسم الله الرحمن الرحيم

عن ابی هریرة (رض) اَنَّ النّبی صلی الله علیه وآله وسلم قال لمَّا حضر
رمضانُ قد جاءكم شهرٌ مباركٌ إفترض
عليهم صيامُهُ تُفتح فيه ابواب الجنَّة وتُغلَقُ
فيه ابواب الجحيم، وتُغَلُّ فيه الشياطين
فيه لَيْلَةٌ خيرٌ من الف شهرٍ، من حُرِمَ خيرَها
فقد حُرِمَ"

رواه احمد، والنسائی

ابوهریرة (رض) روایت کړیدی چې رمضان میاشت راغله، نبی کریم (ص)
وفرمایل: تاسی ته یوه مبارکه میاشت راغله چې
روژه یې درباندی فرض شویده، د جنّت دروازې پکی
پرانستی او د دوزخ پکی پوری کیږی او شیطانان پکی تړل
کیږی، پدی میاشت کی یوه شپه ده چې تر زرو میاشتو
غوره ده، که څوك ددی میاشتی له خیرا وګټو نه بی برخی
شو، نو بس بی برخی او محروم پاتی شو -

دافغانستان جهاد او د مسلمانانو مسوولیت

مولانا بشار

که د افغانستان د تاریخ پاڼو ته په ځیر شو اوپر محتویاتویي ځانونه وپوهوو نو دا حقیقت او واقعیت به را څرګند شي چي دغه اسلامي هیواد دتاریخ په اوږدوکي د دښمنانو دیرغلونو او چپاوونو په مقابل کی د قهرمانیو ، لویو کارنامو او نه هیریدونکو د رسونو لرونکی دی او د دغه مسلمان او غیرتي اولس دخپل اسلامي دین ، اسلامي هیواد او د خپلی آزادي د ګټاو او ساتلو په لارکی د جهاد او میړانی لویه مدرسه پرانستي پریښي ده ، او دغه مدرسه په نړی کی محرومو اولسونو ته د ازادي د مبارزي درسونه ښیي .

دا د دغه مسلمان اولس قهرماني او میړانه ده چي په قوی ایمان او سربښندنی سره یي څوځلی د انګریزانو په درنو وسلو سمبالو لښکرو ته ماتی ورکړی او خپله ازادي یي تری ترلاسه کړی ده . تاریخ ګواه دی چي پر (۱۲۶۵ ه ق) کال د دغه نړی وال استعمار شپاړس زریز لښکرئ دخپل ایمان او غیرت په توره له منځه ته ووړی ، او یواځی یوه تن تری چی (برایډن) نومیده په افغاني جامو کی د تیښتي لاره نیولی او د هغه وخت برطانوی هند حکومتي مقامونو ته یي د انګریزي پوځ د ناکامی او نابودي خبرونه ورکړی دی ، **دا همدغه د افغانستان مسلمان میړنی اولس دی چي نن په قوی ایمان او د غیرت په توره د نړی خور روسی ملحد او ظالم طاقت مقابله کوی او په هیڅ شان ورته د غلامی او ذلت سرنه ټیټوی ؛ بلکه ټولو افغانانو د خپلی ایماني جذبي او د ازادي په سینه غټ او واره ، ښځي او نر په سر او مال د خپلی اسلامي مبارزي او جهاد بیرغ پورته کړی او په کلکه یي پتیيلی ده چي یا به د جهاد له لاری د ازادي ژوند ګټو او یا به د جهاد په لاره کی د شهادت خوږ جام څښو ، خود غلامی ، ذلت او محرومیت ژوند هیڅ نه خوښوو ؛** بلکه ټول په دی فکر او هڅه کی دي چي په خپل اسلامي جهاد سره د دښمن د تنی له منځه وړل لاڅه چی د دغه نړی وال دښمن استعماری ریښي ایستل او د الحادی مفکوری له منځه وړل غواړی او د هغه اجنټان پرچمیان او خلقیان او نور خائنان د تاریخي مسئوولیت په مقابل کی نه بخښونکی عناصر ګڼي .

د افغانستان مسلمان اولس په دی ښه پوهیږی چي روسان د دین او انسانیت دښمنان دی ، او د دوی ناولی څیری به د مکاری په پردوکی پټي نشي . د افغانستان مسلمان او ویښ اولس د خپلو اسلامي مبادیو او تعلیماتو په رڼاکی په دی حقیقت ښه پوه دی چي که د دین او انسانیت دښمنان هر څومره ډیر او په ډول ډول وسلو سمبال وی ؛ ولی مسلمان د ایمان په وسلی او د فداکاری په عالی روحیي او پوره ډاډینه پر دښمنانو غالبه دومی او د باطل ، ظلم او نار وا لښکری له ماتي او ناکامی سره مخامخ کیږی او همدغه اسلامي عقیده ده چي د افغانستان د

خرنګوالی ترلی دي .

همدغه واقعیت ته د پاکستان د اسلامی هیواد لوی فیلسوف او ادیب او نامتو شاعر علامه محمد اقبال (رحمة الله علیه) داسی اشاره کړی ده :

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
از کشاد او کشاد آسیا

په دی منظور چی افغانستان د آسیا په وچه کی جغرافیائی او ستراتیژیکی موقعیت لری او هم چی روسانو په ناروا سره پرازاد افغانستال باندی تیری کړی او له افغانستان څخه د خپلو لښکرو دایستلو په باب د امنیت شوری، د ملګرو ملتونو د نورو غونډو، ناپیلو هیوادونو ، او اسلامی هیوادونو فیصلی او دحق او عدالت غږ نه منی او په افغانستان کی د دغو دښمنانو موجودیت د اسلام، انسانیت او د نړی والی سولی لپاره لوی خطر دی او د افغانستان موضوع د اسلام او انسانیت موضوع ده ؛ نوښائی چی بشر دوسته انسانان او د سولی پلویان او د نړی د هر ګوټ مسلمانان د افغانستان د مسلمان اولس د حقوقو او دریغ ملاتړ شی او د روسانو ظالمانه اعمالو ته په کرکه وکتل شی او ذوښښس وشی چی دغه نړی وال استعمار په شا او نړی واله سوله خوندی وګرځول شی ، د **افغانستان مسلمان اولس د دی حقیقت اعلان کوی چی د افغانستان پر اسلامی خاوری د ملحدو روسانو تیری پر اسلام تیری کول دی** . او نن ورځ دغه کافران او ملحدان د اسلام دریښی ایستلو په هڅه کی دی، نوښائی چی د نړی ټول اسلامی هیوادونه او مسلمانان پخپلو منځو کی د یووالی او ملاتړی اړیکی ټینګی کړی او ټول د دین د دښمنانو په مقابل کی یو موټی او یو صف شی .

دا د عظیم الشأن قرآن اعلان دی چی کوم وخت مسلمانان د دین د دښمنانو له ظلم او ناروا سره مخامخ شی ؛ نو د نورو مسلمانانو دینی مسئوولیت دی چی د خپلو مظلومو ورونو ملاتړ شی ، او د ظلم او ناروا نوغی له منځه وباسی .

وما لکم لاتقاتلون فی سبیل الله والمستضعفین من الرجال والنساء والولدان الذین یقولون ربنا اخرجنا من هذه القریة الظالم اهلها واجعل لنا من لدنک ولیا واجعل لنا من لدنک نصیرا»
(النساء - ٧٥)



«د شهید مقام»

او چت مقام تا لره بنایي بختور شهیده
د حق دلاری مجاهد او د سنگر شهیده

تا په ساتنه د قرآن کی خپلی وینی توی کړی
با شهامته، مسلمان او زړه ور شهیده

تا ته فلک، ملک سلام کړی مرحبا وایي
اوری پرتا د خدای انوار په منور شهیده

پاک ارواح ته ملائکی په خندا درځی
ستا پر میړانه افتخار کړی لرو بر شهیده

قسم دی لور په تر اخره پوری تږی نشی
اوس لو شوه خواږه جامونه د کوثر شهیده

لور مکافات به د عمل پخپله خدای درکوی
موږ به دعا درته کوو شام و سحر شهیده

د اخرت په سختنه ورځ به درته تمه لری
د «حکیمی» شفاعت وکړی مخور شهیده

(حکیمی)

مهاجر

«خوا خوږي مشر»

مولږه وايو د ورورۍ ښه فضا نشته — خو دوی وايي چې په مولږ کې خطا نشته

مولږ که حق وايو خطر را ته پېښيږي — د دوی هر عمل روا ـ ناروا نشته

مولږ که آه له خولې له ياسو بدنامېږو — دوی که هر ظلم کوي څه غوغا نشته

مولږ که وايو دا او داسې ولې کېږي؟ — وايي خير دی، انقلاب دی پروا نشته

که مولږ وايو خانخاني مهلک مرض دی — وايي مولږ سره د دې څه دوا نشته

بدبختي ټوله زمولږ په کور راغلي — د دوی کور کې مصيبت او بلا نشته

زمولږ برخه کې غمې شاري ميري دي — د دوی برخه کې ښکلي دي پيدا نشته

هلته سره اور کې پرانه مسلمانان دي — په هر کور کې هې سوران دي خندا نشته

دلته کونډې يتيمان بې اسرې خلک — خو له دوی سره يې هيڅ غم سودا نشته

چې په حال د بېچاره ؤ رحم نکړي — جفاکار دي له دې غټه جفا نشته

لا يې شايي د عمر (رض) د خلافت دي — خو عمل کې ملوکيت دی وفا نشته

ټول امرونه ځېل سرصادر وي دوی — په هيڅ کار کې مشوره او سلا نشته

که له خدايه وېرېدای داسې به يې نکړل — داسې څنګه کړي چې ويره او تقوا نشته

خير که دا شپه شوه سبا حساب به وشي — اوس دستي خو توره شپه ده سبا نشته

خدايه ته مولږ ته «خوا خوږي مشر» را کړې

بې له تا نه زمولږ هيڅ التجا نشته

مسلمان اولس د هر تن په زړه کې يې ځای نیولی او د خپل اسلامي دين ، خپلې اسلامي خاورې او خپلې ازادۍ لپاره د دښمنانو په مقابل کې په سر او مال جنګیږي ، ټولو پتیلې چې د اسلامي مقدس جهاد له لارې به خپله خاوره ازاده وي او په کې به اسلامي حکومت منځ ته راوړي او له خپل اسلامي هیواد څخه به د پردي استعمار ریښې ' ه بیخه وباسي .

د افغانستان مسلمان اولس د دښمنانو د مکر او حیلو ناولې مخونه ښه پیژني او د دښمنانو په استعماري لومو کې به هیڅکله پرې نه وځي .

او د هغه استعماري فاسد غرض چې د سیاسي حل تر پردې لاندې پټ وي او په سیاسي حل کې د افغانستان واقعي ازادي نه وي او د هغو نتایجو ورکوونکې نه وي چې د هغو له امله د شهیدانو سرې وینې تویې شوي ، دغه راز حل هیڅ د منلو نه دی .

څنګه سیاسي حل د افغانستان د مسلمان مجاهد اولس په نزد په دې مفهوم سره دی چې دښمنان د افغانستان له اسلامي خاورې څخه بې قید او شرطه وځي' و په کې د الحادي مفکورې او کمونستي نظام هیڅ نښه ونه لیدل شي او که نه نو د سیاسي حل مفهوم به د دغه مسلمان میړني اولس په نزد داوي چې خپل اسلامي مقدس جهاد ته دوام ورکړي او د ایمان په قوت او د توري په شهامت خپله اسلامي خاوره ازاده او په کې اسلامي حکومت قائم کړي . دا واقعیت پوره معلوم دی چې روسان د خپلو استعماري غرضونو له مخې په دې فکر او هڅه کې دي چې خپله استعماري ساحه پراخه کړي او خپل ځانونه هندي سمندر ته ورسوي او په دغه سمندر او د هغه پر غاړه پرتو هیوادونوکې خپل استعماري کبان ونیسي او د نورو حقوق او طبیعي پانګې خپلې مړې وګرځوي او هم له شمال څخه تر جنوبه خپل استعماري کبړ وغځوي او د ځمکې له کرې څخه يې تا وراتاو کړي .

بل د دښمنانو (روسانو) فاسد غرض دادی چې افغانستان چې د آسیا د وچې په منځ کې د زړه په شان مرکزیت لري د خپلو الحادي مفکورو او کمونستي نظام د خپرولو مرکز وګرځوي او په دې ډول د دغې آسیائي وچې نور هیوادونه دخپل استعماري او کمونستي نظام په کړۍ کې راولي او بیا ورو ورود نړۍ نورو و چوته ځان ورسوي او خپله استعماري ساحه پراخه کړي .

په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان د اسیائي وچې د مرکزیت محور دی .

څنګه چې د انسان په بدن کې د غړو څرنګوالی د زړه په څرنګوالي پورې تړلی دی؛ همداراز د افغانستان د ازادۍ او محکومیت په څرنګوالي پورې د آسیائي هیوادونو د ازادۍ او محکومیت

پرتامی څه شوی چی د خدای په
لاره کی مقاتله (جهاد) نکوی او د
کمزورو د ژغورنی لپاره چی نارینه
ښځی او واړه دی او وائی چی ای
خدایه! مونږ له دغی قریې څخه
چی اهل یې ظالمان دی وباسی .

همدا راز د اسلام پیغمبر
حضرت محمد ﷺ په دغه باب
داسی ویلی دی :

«تری المؤمنین فی تراحمهم و
توادهم وتعاطفهم کمثل الجسد
اذا اشتکی عضوا تداعی له سائر
الجسد بالسهر والحمی» (متفق
علیه) یعنی مسلمانان د ترحم ،
دوستی او عاطفی له حیثه د یوه
بدن په شان دی، په بدن کی چی
یو غړی نارام شی ؛ نو د هغه په
نا ارامی سره ټول بدن نارام شی .

همدا راز دغه الهی پیغمبر
فرمایلی دی :

**«المؤمنون تتکافأ دماء هم ،
ویسعی بذمتهم ادناهم ، ویرد
علیهم اقصاهم ، وهم یدعلی من
سواهم» رواه احمد و ابو داؤد
وصححه الحاکم ورواه ابن ماجة
عن ابن عباس رضی الله عنهما
بدوغ المرام لابن حجر صفحه
(۲۰۶) .**

په دغه نبوی حدیث شریف کی
د مسلمانانو وینی برابری او د
هغو ذمه واری محترمی او د
دښمنانو په مقابل کی یو لاس
ښودل شوی دی .

همداراز که د تاریخ پاڼو ته
وګورو نو د مستعصم بالله
عباسی خلیفه پروخت چی روسیانو
یوه مسلمانه ښځه بندی کړی وه
او بیا دغی ښځی چی د وامعتصماه
په ویلو سره د خپل خلاصی
او نجات میندلو غږ پورته
کړ نو بیا همدغه خلیفه ؤ چی ژر
تر ژره یې د هغی د خلاصی لپاره
د نجات لښکر ولیږه او هغه یې
د دښمنانو له لاسه خلاصه کړه ،
نن چی افغانستان د تاریخ
له سختی مرحلی سره مخامخ
دی او له پنځو کالو راهسی چی
د هغه مسلمان اولس طبیعی
پسرلی د ظالمو روسانو له لاسه
ویجاړ او د پسرلی د موسم خوښی
یې په ویر ، ژاړینه یې په نارامی
او د پسرلی د ګلونو منظری یې
دوینو په منظرو بدلی شوی دی؛
نو داسی چاری کیدونکی دی
څکه په نړی کی ظالمان شته او
د ظالمانو د لاسه انسانان نارامه
کیږی؛ ولی د افغانستان مسلمان
او میړنی اولس که د خپل هیواد
طبیعی پسرلی له لاسه ورکړی
دی مګر د هغه پرځای د خپل
مقدس جهاد له پسرلی سره مخامخ
دی او بخپل قوی ایمان او د
قربانی په لوی شهامت سره د
مظلومانو او محروموانسانانو او
اولسونو مخ کی یې د جهاد د
پسرلی منظره ښکاره کړی ده او
دغه مسلمان اولس نړی والوته
غږ پورته کړی چی د افغانستان
جهاد د اسلام او انسانیت جهاد
دی او د افغانستان د جهاد
کامیابی د اسلام او انسانیت او د
نړی د سولی په ګټه دی .

★

دکتور محمد ظاهر «صدیق»

روسهای تجاوزگر دیگر جائی در ملل متحد ندارد

یکی از افتخارات تاریخی بشریت دراواسط قرن موجود، بنیانگذاری سازمانی بود برای سهمگیری قاطع در صلح و سلم گیتی ، حفظ آزادی ملل و کرامت انسانی . این سازمان جهانی ملل متحد است که برای بر آورده شدن این هدف والا درست درمیان دود و آتش و بر روی خرابه های جنگ دوم جهانی اساس گذاشته شد . منشور این سازمان اگر از یکطرف اساساتی را بمیان میگذاشت که باید همه ملل ، چه خورد و یا بزرگ ، بحیث اعضای برابر جامعهٔ انسانی از آن پیروی کنند ، از جانب دیگر اعضای خود را بر آن و امیداشت تا وجایب خویش را در برابر حقوق دیگران بسر رساند .

